سرلوڅ مرادزی

۲۲ / ۰۸ / ۲۰۲۴

# تور غار یا Black Hole:

ویل کیږي چې په هر **ستورغوند** یا کهکشان( Galaxy) کې یو یا څو تور غاره (Black hole) شتون لري.
زموږ د ستورغوند یا شېدولار ستورغوند(Milky way galaxy ) په مرکزکي هم یو تور غار شته.
دا هم ویل کیږي چې په تور غار کې رڼا یا نور او یا بله هر ډول ماده لکه ستوري او سیاري بلع کیږي او له منځه ځي.
زما په اند څمکه هم یو تور غار یا Black hole لري او هغه افغانستان دی.
د افغانستان پر ځمکه هم هر ډول تمدن، زبر ځواکونه او امپراطورۍ په خپلمنځي سیالۍ کې بلع کیږي او له منځه ځي. افغانستان پرته له دې چې ځانته ترې ګټه پورته کړي، زموږ د کړي یا ځمکې پر سر د نورو په سیالۍ کې د تور غار یا Black hole دنده لوبوي!
د ۲۰۲۴ کال د مۍ ۳۰ مه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ